مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۱۱/۲۹

# ملالې ګُلې سلام،

## له اکسفورډ پوهنتونه دې وتل مبارک شه!

ښه شو، چې د زړګړو ارمان دې پوره شو. تا د یوې پښتنې نجلۍ په توګه د زړګړو لپاره قرباني ورکړه او دا دی خپل ارمان ته ورسېدلې...

هو رېښتیا واده دې هم مبارک شه...

واده دې شخصي کار دی، خو زړګړې دې په ټولو پښتنو پورې تړلې کیسه لري.

کیسه داسې ده، چې نهه کاله پخوا مورږ یو پیاوړی هیواد درلود، زه د دې هیواد په استازولۍ په یوه علمي کنفرانس کې د ګډون لپاره د نړۍ د یوه ستر هیواد په پلازمېنه کې وم، چې د (تعلیم او له تعلیم سره د مینې) په جرم پر تا ډزې وشوې، ستا یې وینې وبهولې، غوغا جوړه شوه... او زه چې شاعر یم، له زړګړو او تعلیم سره د جنون تر بریده مینه لرم او د نجونو تعلیم راته ډېر مهم ښکاري او بېبریده عاطفي انسان یم او سیاست مې لا عاطفه راوژلې نه ده او... او... نو ستا د وینو څاڅکو په ولولو راوستلم، ایسته مې یوه خورا عاطفي- حماسي مثنوي درته ولیکله:

**د سواتې ملالې سپینه غاړه سره شوه**
**یوه سره ګولۍ په ګلو کې سره شوه...**

دا مثنوي بېخي زیاته خوله په خوله شوه، ډېرو کسانو په شعارونو ولیکله، په کابل، کندهار، ننګرهار، مزار و هرات او بل افغاني ښار کې د نجونو په ښوونځیو کې ولوستل شوه، ستا لپاره د افغانستان د ښوونځیو نجونې راووتلې، ستا لپاره د انځورګرۍ نندارتونونه جوړ شول، ستا لپاره افغان مېندو خویندو په نړۍ کې غږ پورته کړ، ستا کیسه د افغانستان د ښځینه فعالینو د سټېج او مجلس کیسه شوه...

**ته د میوند له ملالې سره پرتله شوې،**
**ته یې د افغان تاریخ یوه مبارزه ډیوه وبللې...**

ستا لپاره ګڼ روښانفکران وښکنځل شول، ترهګرو، بنسټپالو، شاتګپالو، چې پر تا یې ګولۍ ورولې وې، پر مورږ یې د کفر او ارتداد ټاپې وورولې، خو مورږ ستا لپاره، د پښتنو نجونو د حق لپاره او د انسانیت لپاره دا هرڅه د خپلې مبارزې لپاره ویاړ وګڼل ...

د افغاني ولولو همدغو څپو او د افغان ښځو پیاوړې ملګرتیا و ملاتړ ته د نړۍ تر لویو تالارونو ورسولې، لندن دې په کوربه تابه وویاړېد، واشنګټن و نیویارک ته ولاړې، ملګرو ملتونو سټېج درکړ او بالاخره دې د سولې د نوبل جایزه و ګټله، دا جایزه ستا نه وه، دا جایزه له تعلیم څخه د محرومو افغان نجونو جایزه وه، چې د هغوی په استازولۍ تا ته درکړل شوې وه، دا جایزه اوس هم ستا نه ده، بلکې دا د افغانستان د میلیونونو محرومو نجونو او مېرمنو امانت ده، چې تا له ځان سره ساتلې ده .

تا چې د نړۍ ځراغانه تالارونه ولیدل او د پانګې ځلېلونو دا درنه هېر کړل، چې څوک وې؟ او ولې اوس دلته یې؟ نو افغانستان راپریوت او ژوند په کې زخمي شو، کټ مټ لکه ته چې زخمي شوې وې...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

خبره يې؟

ستا په شان میلیونونه نجوني له ښوونځي محرومې دي،

خبره يې؟

په زرګونو وویشتل شوې، په لکونو ګدایي ته راوتلي دي، په میلیونونو وږې دي او په سلګونو يې پلرونو میندو خرڅې کړلې، چې په پیسو يې وچه ډوډۍ واخلي...

له هرڅه و هرچا غږ پورته شو، خو موږ ستا غږ وانه وربېده ...
ملالۍ!

یوه ورخ،

یا لږ ترلږه یو ساعت له خپل افسانوي او شاهانه ژونده د خپلو هغو خویندو، ملګرو او خواخوږیو تیارې نړۍ ته راوګوره، چې ستا لپاره يې ژړلي وو، ستا د روغتیا لپاره يې ډیوې بلې کړې وې، ستا عکسونه يې په لارو کوڅو کې ګرځولي وو، ستا لپاره يې افراطیت او تعصب د ځان دوښمنان کړي وو...

د نوبل جایزه ستا نه ده، د افغان نجونو ده،

د هغه څه لپاره چې ته ملاله شوې، هغه څه پر میلیونونو نجونو زر واري بدتره راپېښ شول، خو ته خاموشه يې، ستا لپاره سره و سپین چکچکیان چوپ دي، ملګري ملتونه مړه دي، د نوبل بنسټ ویده دی، د بشري حقونو مدافعین پټ شوي دي او د انسانیت دعوه داران د نوي کال او کرېسمس په جشن کې تر ستوني نشه دي ...
موږ له هغو شعرونو او شعارونو سره یوازې پاتې یو، چې دولس کاله مخکې مو تاته در ډالۍ کړي وو او اوس راته د پیغور پانو په شان د شرم کربنې غوندې ښکته وپورته کیږي...

**بیا هم له خپل واده او پوهنتوني فراغت سره خوښه او روغه اوسې!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ